مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر
۲۰۲۰/۰۸/۳۰

# د دردمن حال

دردمن په مورِ کي نشـــته چي دردونه ما نه واوري
په زړه چي مي پراته دي، پټ رازونه ما نه واوري

هر چا ته چي نظـــــر کړمه، روانه جنـــــازه ده
آشنا په درد کي نشته، چي نقـــــلونه ما نه واوري

د ځـــــان سره ويرم، نه پوهيږم چـــــاته ورشم
چي آشنـــا د زړه په حال وي، غمونه مـــا نه واوري

عبرت درســــــونه ما، د زمانـــــی څخه اخيستی
احســـــاس خاوند دی راشـــي، مثالونه ما نه واوري

چوپتيا کي د کوګل می، شور ماشور کلـــــه جګيري
په رمز کی چي آشنـــــا وي، فريادونه ما نه واوري

د حال خاوند په کار دی چي د زړه په حال خبر شي
که حال و ځان ته غواړي، نو حالونه ما نه واوري

نادره زما په عمــــــر زمــــاني، شو لــــــي بدلي
د چا نه به ګيـــــــله کرم، تير يادونه ما نه واوري

دردمن خدايه پيدا کړئ، دي محفل کي د بی دردو
چي راشي زما تر څنګه، تاريخونه زما نه واوري

سید عبیدالله نادر
کال ۱۳۷۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ